Share
Twittern

سرتور ملنګ

۲۰۱۲/۰۶/۰۶

# ملی ضد جبهه

په دی وروستیو وختو کی د پخوانیو جنګی ډلو مشرانو یو ځل بیا یو بل ته لاسونه سره ور کړی او د ملت په ضد ئی نوی جبهه پرانستی ده. دوی دی جبهی ته د ملی جبهی نوم ورکړی. دا چی دوی هیڅ یو هم عالی زده کړی نلری نو د ملی جبهی په مانا هم نپوهیږی. دری ستر غداران چی په تیرو دریو لسزو کی د هیواد او ولس سره ستر ستر خیانتونه کړی دی او د دی په ځای چی دوی باید لا پخوا د خپلو اعمالو او جنایتونو په سزا رسیدلی وای او ولس د دوی له شره خلاص شوی وای خو متاسفانه چی په دوی باندی د هیچا زور و نه رسیده ، نړیوالی ټولنی هم و نه شوای کړای چی افغان ولس د دوی له شره خلاص کړی هغوی هم دوی ونازول او دوی ئی د میلیونونو ډالرو خاوندان کړل او تر ډیره حده دا هم امکان لری چی د دی ملی ضد جبهی په جوړولو کی هم د نړیوالو ځواکونو مرسته ورسره وی دا چی جبهه چا جوړه کړی او کوم اهداف لری یو څه رڼا ور باندی اچوم:

دا جبهه د احمد ضیا مسعو په مشری د دوستم او محقق له خوا جوړه شوی ده دوی په ظاهر کی د فدرالی نظام د جوړولو ناری وهی خو په حقیقت کی د افغانستان د تجزیی پلانونه مخ ته وړی دوی د طالبانو سره د مذاکراتو او د سولی د پلان سخت مخالف دی او په هیڅ ډول سره نه غواړی چی طالبانو ته په حکومت کی برخه ورکړه شی ګر چی ظاهراً دوی د افغانستان او آمریکا د ستراتیژیک تړون مخالفت په څرګند ډول نکوی ولی په پټه د ایران اجندا مخ ته وړی اود افغانستان د دښمنانو د استخباراتو سره نژدی اړیکی لری.د دی جبهی اصلی لوبغاړی:

احمد ضیا مسعود- چی د جبهی مشری کوی د احمد شاه مسعود ورور ده چی له ۲۰۰۴ کال نه تر ۲۰۰۹ کال پوری د جمهور رئیس لمړی مرستیال وو ده د جبهی جوړول له خپل ورور نه زده کړی. احمد شاه مسعود هغه کس وو چی د بنن سیوان د سولی پنځه فقریزه پلان ئی شنډ کړ او د پرچمیانو، دوستم او مزاری سره په ائتلاف کی ئی د نجیب په ضد کودتا وکړه د کابل ښار ئی و نیول او د افغانستان ستره اردو ئی ړنګه کړه او د ملی اردو ټول وسایط او تجهیزات ئی پنجشیر ته انتقال کړل د جبل السراج د تړون له موادو سره سم ئی د ګلبدین په مقابل کی جنګ شروع کړ او د ټولو پښتنو سره یی جهاد پیل کړ کله چی و پوهیده چی د پښتنو له منځه وړل ناشونی دی نو دهزاره ګانو او دوستمیان په ضد ئی دسیاف سره جبهه جوړه کړه. د افشارو او کارته سه د نیولو په وخت کی ئی د هزاره ګانو په ضد جهاد اعلان کړ او په زرګونو بی ګناه هزاره ګان ، ښځی او ماشومان ئی قتل عام کړل د هزاره ګانو په ناموسونو ئی تجاوز وکړ اوتر نیمایی په زیاتو ښځو باندی ئی د دوی د اولادونو او فامیل تر مخ تجاوز و کړ. په آخر کی بی د طالبانو په ضد د ګلبدین سره جبهه جوړه کړه چی با الاخره ئی ماتی وخوړه او پنجشیر ته و تښتیده.

دوستم- هغه ستر جنایت کار ده چی په تیرو دریو لسزو کی لاسونه د زرهاو بی ګناه افغانانو په وینو سره دی. دا غدار تر دریم ټولګی پوری زده کړی کړی ولی روسانو او روسی استخباراتو ته د ښه خدمت له امله د ډګر جنرالی رتبی ته ورسیده چی بیا حضرت صاحب ورته د ستر جنرالی رتبه ورکړه. د دی جنایت کار د جنایاتو لړی دومره زیاته دی چی په لسګونو کتابونو کی هم نه ځایږی. زما په یاد دی د دی جنایکار یوی ملشی ما ته یوه ورځ په افتخار سره وویل چی کله دوی د نجیب په وخت کی په پغمان حمله وکړه نو ده د کورنیو ښځی ماشومان او حتی د زانګو ماشومان هم په مرمیو وویشتل ځکه هغوی اشرار ول. دوستم د نجیب په ضد او د ملل متحد د سولی په پلان د مسعود سره یو ځای کودتا و کړه او د سولی پلان ئی شنډ کړ. وروسته د مسعود په ضد د ګلبدین سره یو ځای شو او د کابل په ښار ئی بمباری پیل کړه. د دوستم د جنایاتو قیصی د قندهار ښار، خوست او د کارته نو اوسیدونکو ته معلومی دی چی دی و حشی ځناورو په ماشومانو هم رحم و نکړ. د آمریکایانو په مرسته ئی په تسلیم شویو طالبانو باندی مرمی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

و چلولی او په زرهاو طالبان ئی ژوندی تر خاورو لاندی کړل او دلیلی په دښته کی په دسته جمعی قبرونو کی خښ کړل. دوستم هیڅ وخت سوله نه غواړی اونه هم په سوله کی د هغه خیر شته هغه دومره جنایات کړی چی هغه د یوی ورځی ژوند کولو لیاقت هم نلری. هغه هم لکه چی وویل شول د جبهو جوړولو او دسیسو جوړولو ښه مهارت لری له ترکی، روسی، ایرانی او امریکای استخبارات سره ښی اړیکی لری هر دولت چی زیاتی پیسی ورکړی دهغو په خدمت کی ده، نه افغانی بنیاد لری او نه هم له افغانستان سره مینه لری.

محقق- د جبهی بل غړی هم هغه لوی جنایت کار ده چی د هغه لاسونه هم د بیګناه خلکو په وینو سره دی. هغه د هغی ډلی مشری کوی چی دخلکو په سرونو کی به ېی میخونه ټکوهل او ښځو نه به ېی سینی پری کولی. د قوم او ژبی په نوم به ئی خلک نیول او په خولو کی به ئی متیازی ورکولی. هغه هم د جبهی په جوړولو کی ډیر مهارت لری تل ېی جبهی جوړی کړی او وروسته د پیسو له اخیستلو بل لوری ته اوښتی ده. هغه د مقام او پیسو د اخیستلو لپاره ځان د هزاره قوم او د وحدت ګوند مشر ګڼی ولی کله چی پیسی واخلی بیا ئی نه قوم په کار ده او نه ګوند. تاسو وګوری هغه دا ځل له احمد ضیا مسعود سره جبهه جوړه کړی او لکه څرنګه چی وویل شول د ضیا مسعود ورور احمد شاه مسعود د آفشارو او کارته سه په جنګونو کی په هزاره قوم داسی ناتار جوړ کړ چی د نړی په تاریخ هیڅ کوم جابر او ظالم په چا نه وو کړی. هزاره ګان باید د عاشورا په ځای د د لوی ۲۲-۲۳ تاریخ ماتم ولمانځی دا هغه ورځی دی چی مسعود په آفشارو کی هزاره ګان قتل عام کړل او د هغو په ناموسونو ئی تجاوز وکړ. مګرڅرنګه چی دوی خپله همداسی جنایتونه سر ته رسولی نو د نورو جنایتکارانو سره د ګډی په وخت کی هیڅ مشکل نلری.

دوستم او محقق د جمهوری ریاست په دوم ځلی انتخاباتو کی د کرزی لپاره کمپاین کاوو اودوستم د کمپاین لپاره له ترکیی څخه راغی همدارنګه محقق په خپل ټول توان د کرزی څخه ملاتړ کاوو مګرم اوس د هغه په ضد ولاړ دی.

دی جنایتکارانو څه موده مخکی په جرمنی کی د امریکا له سناتورانو سره هم ولیدل او داسی معلومیږی چی د هغو له خوا هم حمایه کیږی. دوی د فدرالی نظام په نامه د افغانستان د تجزیی پلان لری اولکه څرنګه چی د دوی دا پټ پلان په دی ورځو کی د مشارکت د ګوند د مشر نجیب الله کابلی له خو افشا شو هغه وائی چی ده ته محقق او دوستم په تخار کی وویل چی دوی د فدرالی نظام لپاره کار کوی او که چیری پښتانه د دوی سره موافقه و نکړی نو دوی به د تجزیی پلان مخ ته بوزی او افغانستان به تجزیه کړی. نجیب الله کابلی وایی چی دوی د خپلو پلانونو دعملی کولو لپاره د ایران څخه پنځه لکه ډالر اخیستی دی، او هغه محقق او دوستم په ملی خیانت تورن کړل.

د دی جبهی تر شا د آمنیت پخوانی رئیس آمر الله صالح هم ولاړ ده ولی دا په کراتو کراتو ثابته شوی چی دغه جنایت کاران یوازی د پیسو او چوکیو په خاطر دا ډول جبهی جوړوی. زموږ په یاد دی چی کله احمد ضیا معاون وو همدا ډول یوه جبهه د ربانی، فهیم، دوستم له خوا هم جوړه شوی وه ولی کله چی فهیم او ربانی ته د مقامونو د ورکولو وعدی وشوی نو سمدستی هغوی جبهه پریښوده او یوازی عبدالله پاته شو. په هغه وخت کی به ربانی او فهیم په هر مجلس کی ویل چی مجاهدین کنار زده میشود او دولت به ئی تحدیداوو ولی کله چی مقامونه ورکړل شول هر څه سم سول. اوس احمد ضیا جبهی جوړوی او په دولت تورونه لګوی ولی ده هیر کړل چی دی د همدی دولت دوهم ستر مقام وو او په دوبی کی له ۵۰ ملیونو ډالرو سره ونیول شو چی بیا وروسته دکرزی په مرسته خلاص شو.

د نظار شورا غړی هر یو ځان واجب الاحترام ګڼی او دوی هر یو دا دولت او مقامونه د ځان مال بولی او که له مقام نه لری شول نو بیا دسیسی جوړوی. زموږ جمهور رئیس دومره په چوکی مین ده چی هیچا ته څه نشی ویلای په زاریو او ننواتو حکومت کوی کله یو پخلا کوی او کله بل، کرزی په تیرو لسو کلو کی د خپلی بقا لپاره د نظار په شورا ننواتی و ګرزول. اسمعیل خان هم دا لس کاله د کرزی وزیر ده او هم د مخافی ډلی ستر غړی ده کله چی دهغه د ۷۰ میلیونو ډالرو دوسیه ئی را پورته شوه نو همدا کرزی د هغه نه په دفاع شروع وکړه. هغه وویل چی اسمعیل خان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اسناد لری او ژر به دخپل خان دفاع وکړی. لکه چی مخکی وویل شول کرزی د هر غله نه دفاع کوی د کرزی په توره دوره کی حتی یو غل ، یو قاچاقبر او یو جاسوس محاکمه نشو د هغه په ټول دولت کی حتی یوه پاکه اداره پیدا نشوه له کرزی نیولی تر عادی پولیس او ترافیک پوری ټول په غلا او چور لګیا دی. د کرزی نه نور د هیڅ شی طمعه نشی کیدای هغه په ارګ کی بندی ده او دهغه سره د ولس هیڅ غم نشته او نه ئی تر اوسه پوری د ولس لپاره کوم د خیر کار کړی ده.کرزی څه موده وړاندی وویل چی کوښښ به وکړی چی انتخابات په راتلونکی کال کی وشی ځکه په ۲۰۱۴ کال کی به مشکله وی چی هم انتخابات وشی او هم د خارجی قواو څخه قدرت انتقال شی مګر کله چی د نظار شورا ملا معنوی اخطار ورکړ چی انتخابت باید په خپل وخت وشی او هیڅوک نشی کولای د انتخاباتو و خت ته تغیر ورکړی نور بیا کرزی چوپ شو بله ورځ ئی بیا وویل چی دی نه کاندید ده او نه د کاندیدو حق لری. ملا معنوی اوس د انتخاباتو د قانون په بدلولو کار کوی او غواړی چی احزابو ته په پارالمان کی انتصابی چوکی ورکړی شی او په دی ترتیب د نظار شورا په پار المان کی ډیری چوکی ولری.

خدای دی په دی خوار او مظلوم ولس خپل رحم وکړی او الله پاک دی د شهیدانو د پاکووینو په قدسیت دا ولس نور د غدارانو ، ملی خاینینو او ظالمانو له منګولو خلاص کړی. دا مظلوم ولس نور د غدارانو او وطن پلورونکو د توطیو او دسیسو توان او قدرت نلری همدارنګه د لوی څښتن دربار ته په ډیره عاجزی سوال کوو چی د دی ولس لپاره یو پاک با دیاناته او صادق رحبر پیدا کړی او چا چی د دی ولس سره جفا کړی دخپلو اعمالو په سزا ورسوی.

په درنښت

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ